# هېڅ داسې څوک نشته چې د زړه له اخلاصه پدې خبره ګواهي ورکړي چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی، مګر دا چې الله جل جلاله به يې په اور حرام کړي

له أنس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمُعَاذٌ رَدِيفُهُ عَلَى الرَّحْلِ قَالَ: «يَا مُعَاذُ بْنَ جَبَلٍ»، قَالَ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ، قَالَ: «يَا مُعَاذُ»، قَالَ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ، ثَلَاثًا، قَالَ: «مَا مِنْ أَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ صِدْقًا مِنْ قَلْبِهِ إِلَّا حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ»، قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَفَلَا أُخْبِرُ بِهِ النَّاسَ فَيَسْتَبْشِرُوا؟ قَالَ: «إِذًا يَتَّكِلُوا». وَأَخْبَرَ بِهَا مُعَاذٌ عِنْدَ مَوْتِهِ تَأَثُّمًا. معاذ رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې شاته په سپرلۍ ناست و، نو ورته يې وويل: «اې معاذ بن جبل» هغه وويل: حاضر يم اې د الله جل جلاله رسوله او ستاسو بلنه مې منلې ده، نو په اوربدلو مې خوشحاله کړه! هغه وفرمايل: «اې معاذه» هغه وويل: حاضر يم اې د الله جل جلاله رسوله او ستاسو بلنه مې منلې ده، نو په اوربدلو مې خوشحاله کړه! درې ځلې، ويې فرمايل: " هېڅ داسې څوک نشته چې د زړه له اخلاصه پدې خبره ګواهي ورکړي چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی، مګر دا چې الله جل جلاله به يې په اور حرام کړي»، هغه وويل: اې د الله جل جلاله رسوله آيا پدې سره خلکو ته خبر ورنکړم تر څو يو بل ته زيرى ورکړي؟ هغه وفرمايل: بيا به هغوی په همدې تکيه وکړي او عمل کول به پرېږدي، بيا معاذ خلکو ته د مړيني پر مهال خبر ورکړ تر څو د علم په کتمان سره ګناهکار نشي.

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

معاذ بن جبل رضي الله د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې شاته په سپرلۍ ناست و، نو غږ يې ورته وکړ چې اې معاذه؟ درې ځلې يې ورته په تکرار سره غږ وکړ؛ د هغه څه د ارزښت له امله چې ورته يې وييل. او معاذ رضي الله عنه به په هر ځل ځواب ورکاوه چې (لبيک يا رسول الله و سعديک) يعني اې د الله رسوله ستاسو بلنه مې په پرلپسې توګه منلې ده، او ستاسو په بلنه خوش يم. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې هېڅوک داسې نشته چې د زړه له اخلاصه پدې خبره ګواهي ورکړي چې دروغ پکې نه وي چې له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته، او دا چې محمد د الله رسول دی، نو که چېرته پدې حالت کې مړ شو، الله تعالی به يې په اور حرام کړي. نو معاذ رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه غوښتنه وکړه چې خلکو ته پدې خبره خبر ورکړي تر څو خوشحاله شي او زيری پرې ورکړي؟. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ووېرېد چې هسې نه خلک په همدې خبرې تکيه وکړي نو عملونه به يې کم شي. نو معاذ هېچاته ونه وييل مګر د مرګ د رارسېدو پر مهال؛ تر څو د علم په پټولو سره ګناهکار نه شي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee